# د زېتون بانو په افسانوي مجموعه '' مات بنګړي'' کښې نفسياتي مطالعه

Naeema Hayat*
Dr. Sher Zaman Semab**

**Abstract:**

Creative literature is the reflection of the sentiments, feelings and emotions of human. In this regard fiction may be termed as the main and most known, reliable and trustworthy source and channel and rightly called the mirror of such feelings. Actually fictions reflects the real societal life of an area, region. Pashto fiction represents the same and is the factual mirror of the emotions and sentiments of the people. A number of Pashto fiction writers are well known in term of representing the human's sentiments in their fictions. Zaitoon Bano (late) belongs to the same school of thought. In this paper, the same reflection especially women related issues in her fictions and dramas will be highlighted in depth. This is one of her remarkable services for the female folk especially (Pashtoon women) to represent their feelings and sentiments. One of her fiction's collections ***Maat Bangri*** represents female's sentiments in more beautiful, attractive and impressive way. The same will be preferred and critically evaluated in the paper.

**Keywords:** Creative literature, feeling and emotions, societal life, Maat Bangri,

په شلمه پېړۍ کښې چې کومو د خپل فن له کبله نوم ګټلے دے .د زېتون بانو په کښې په خاص توګه پېژندے شي .د زېتون بانو فن د خپل خالص فکر ،خوږه او ښائسته ژبې هنداره ده. زېتون بانو په بنيادي توګه يوه افسانه نګاره ده .خو خپل فن ئې صرف د افسانې پورې محدوده کړے نۀ دے بلکې د ادب په هر صنف کښې ئې خپل قلم پورته کړے دے.

د پښتو افسانې اغاز که څو د شلمې پېړۍ نه شروع شوے دے .خو ولې د صدۍ په نيمائي کښې د نورو اصنافو سره سره افسانې کښې هم د فن او موضوع په لحاظ نوي نوي

* Associate Professor, Frontier College for women Peshawar
**Assistant Professor, Pashto Academy University of Peshawar

تجربات اوشول ـ په فني او موضوعاتي دواړو حوالو معياري او په فن پوره افساني اوليکلې شوې ـ لکه تجريدي علامتي ، جنيسي افسانې او د موضوع په لحاظ روماني رنګ ، ترقي پسندي ، حقيقت پسندي او نور داسې ګڼ شمېر موضوعات لري چې په دغه دور کښې ورته خصوصي توجه ورکړې شوې ده ـ

زېتون بانو د خپل دور د زنانه ؤ اديبانو کښې يو کامیابه او منفرد اديبه ده ـ د هغوي د افسانو يو خپل رنګ او اسلوب دے هغه صرف د بانو خصوصيت دے ـ

د زېتون بانو د خپل ليک موضوعات د خپل پښتني کلتور او ټولنپوهنې د ښځينه احساساتو ، مسائلو او ترجيحاتو په داسې هنر باندې خپل لوستونکو ته وړاندې کوي چې خپله مدعا هم لوستوکو ته اورسوي او د خپل پښتني اقدارو او رواياتو خيال هم ساتي ـ

د زېتون بانو نه وړاندې هم ډېر اديبانو په دې موضوعاتو باندې قلم پورته کړے دے خو چې کوم بې باکي او په بهادرۍ سره د پښتني ټولنې د ښځينه احساساتو ، نفسياتو حق ، ظلم زياتي ، رسمونو ، رواجونو باندې قلم پورته کړے دے ـ د صرف زېتون بانو غوندې يوه پښتنه اديبه کولے شي ـ

زېتون بانو د خپل چاپېرچل د دود دستور ښه او بد او نفسياتو باندې ژوند لري ـ دغه د هغوي په افسانو باندې د رښتياؤ ګمان کېږي ـ بانو د خپل ټولنيز دود دستور نه څۀ په داسې انداز پرده اوچته کړې چې لوستونکي لږ ساعت له په سوچ کولو مجبوره شي ـ ځکه چې دغه قيصه د پښتني کلتور ، ټولنې ژوندي کردارونه دي او دغه صرف د زېتون بانو غوندې بهادره جرأت منده ، بې باکه او ريښتونې اديبه کولې شي ـ د زېتون بانو کښې د ښځينه احساساتو نفسياتو د اظهار په لړ کښې احمد پراچه خپل کتاب زېتون بانو فن و شخصيت کښې وائي :

''وہ سماجی ناانصافیوں، معاشرتی المیوں، غلط روایات اور علاقائی جبر و تشدد کی نہایت جاندار تصویر پیش کرتی ہے۔ وہ چھوٹے کہنوں پر اپنے کرداروں کو بڑے اعتماد کے ساتھ سامنے لاتی ہے۔ گویا یہ موضوع کو بڑے عمدہ اور رومانی انداز میں پیش کرنے کا سلیقہ بھی آتا ہے۔ [1] ''

په شلمې پېړۍ کښې چې کومو افسانه نګارو د خپل فن د کبله نوم ګټلې دے زېتون بانو په کښې خاص توګه پېژندے شي ـ د دوي فن د خپل خالص فکر خوږه او ښائسته ژبې هنداره ده ـ او فن او شخصيت ئې يو بل سره سمون لري ـ دوي يو باشعوره پوهه زنانه ده ـ

زیتـون بـانو پـه بنیـادي توګـه یـوه افسـانه نګـاره ده خـو ولـې دوي خپـل فـن صـرف د افسانې پورې محدود کړے نۀ دے بلکې د ادب په هر صنف کښې ئې قلم چلولے دے او خپـل هرې فنپارې کښې ئې د فني تقاضو خیال ساتلے دے۔

زیتون بـانو د خپـل لیـک موضوعات د خپـل پښـتني کلتـور د زنانـهٔ مسـائل دي۔دا پخپله یوه ښځه ده دغاه وجه ده چې په خپلو افسـانو د ښځینه احساساتو درد، ظلم زیـاتي، نفسـیاتو او جنسي جذباتو اظهـار پـه ډېر ښې باکـه او زړۀ راشکونکي ډول کـوي ۔د هغـوي د افسانو کردارونه د پښتني ټولنې ژوندي انځورونه وي ۔دغه وجه ده چې د خپـل دود پـه زنانـهٔ ادیبانو کښې یوه کامیابه او منفرده ادیبـه وه ۔هغـوي افسـانه لیکلو کښـې کـم اسلووب خپـل کړے دې۔دا صرف د زیتون بانو خاصیت دے۔دغـه وجـه ده چې د پښـتو سـتر لیکـوال ایـوب صابر زیتون بانو ته د پښتو ادب خاتون اول خطاب ورکړو۔

زیتون بانو په افسانه کښې په ګڼ شمېر مجموعې چـاپ دي ۔هنداره ، مـات بنګړي، ژوندي غمونه ، نیزه وړے ، خوبونه ئې پښتو افسانوي مجموعې دي ۔وقت کی دهلیز کښـې چې کوم چې وخت په وخت په اردو کښـې ترجمـه شـوې افسـانې هغـه اور شیشـم کـا پتـه ، زنـده دکھ دا ټولې پکښې راغونډې کړي دي۔

د زیتـون بـانو د افسـانو خصوصیت دادے چې هغـوي د خپـل ټـولنې د ډېې نـازکې او حساسې طبقې نمائندګي کړې ده ځکه چې ښځې د پښتون کلتور یو نظر انـدازه شوې طبقـه ده پښتنې ټولنې کښې د سړو باچائي ده دغه وجه ده چې بانو د خپل هم جنسه طبقې پـه حقونـو د درد په احساساتو ، جذباتو او نفسیاتو باندې ډېر په ښکلي انداز کښې ټکونه کوي۔بـانو کلـه مسیحا شي چې د ښځو پرهرونو باندې پهې کېږدي خو ولـې کلـه هغـه یـوه داسـې ناقـد شـکل اختیار کړي چې د کلتور سختو ته د هغوي غلطي په ګوته کړي۔

د خپـل کلتور په نفسیاتي اړخ بانـدې زیتـون بـانو پـه ډېـره ښې باکـه انـداز کښـې ګوتـه اوچتوي۔هغه که هر څومره یوه زنانه ده خو د یو روحاني ادیب په طور هغه د علامت نه کـار نـه اخلي او خپله خبره په ډاګه کوي۔ځکه خو خاطر غزنوي صیب د بـانو د لیـک بـاره کښـې وائـي چې:

میرے ہاں علامت اس لئے نہیں ہے
کہ پشتون لوگ سیدھی بات کرتے ہیں[2]

نفسیات څه دي ددې تعریف څۀ دے د کوم ځائے نه راغلے دا قسمه سوالونه زما مخې ته راتلل ـ چې کله ما د بانو د افسانو مجموعې مات بنګړي نفسیاتي مطالعه کوله نو مناسب ده چې اول به د نفسیاتو یو لنډه شان پېژندګلو اوشي ـ

**نفسیات :ـ**

انسان پېدائشي طور باندې د مغزو او د ذهن په وسیله دومره ژوند کار سرته رسوي ـ په هر وخت هر کار او انداز کښې د انسان ذهن بېداروي او خپل مهم کردار لوبوي ـ تر دې چې انسان اودۀ وي نو هغه وخت هم ددۀ ذهن کار کوي او په هېڅ وخت کښې ذهن نه اودۀ کېږي ـ په کاروان نفسیات کښې دي چې :

*" ذہنی اعمال ہر وقت جاری و ساری رہتے ہیں۔ ہماری زندگی میں کوئی مقصد نہیں آتا حتیٰ کہ نیند کی حالت میں بھی مصروف رہتا ہے۔ نیند کی دوران خواب دیکھنا اسکی مثال ہے۔ [3] "*

د خارجي دنیا د روزمره مشاهداتو او د قوت سامعه ذریعه د خارج نه څیزونه دماغونه ته لاړ شي ـ هلته مغزۀ د خپل باطن سره دغه خارج یو ځائے شي او داسې انساني ذهنیت جوړ شي ـ په یو ټولنه کښې د هر وګړي ذهن د نودرنه پېل وي ـ د ټولنې د وګړو ذهنیت د یو بل نه جدا ځکه وي چې د دوي مشاهدات د ټولنې د وګړو ذهنیت د یو بل نه جدا ځکه وي چې د دوي مشاهدات یو تر بله جدا وي اګرچې خارج کښې څیزونه دوي یو شان ګوري ویني خو کله چې دغه خارج باطن ته لاړ شي او انساني احساسات درسره مل شي ـ نو هغه وخت ذهنیت وده مومي ـ د هر وګړي احساسات او جذبات د یو بل نه جدا وي ـ دغه وجه ده چې ذهنیت ئې هم رول جړ شي هم دغه رنګ د یو قوم ذهني صلاحیت د نورو قومونو نه بل وي د یوې خاص جغرافیې د وګړو د هغو نه د نورې نړۍ نه بدل د یو خانداني ذهني سطح د بل نه خاندان نه بدله وي ـ دغه ذهني توفیرونه د خاصې جغرافیې قوم او خاندان نه تر فرد پورې یو تر بله بدلېږي ـ

د ټولنې د وګړي ذهن وخت په وخت بدلېږي کله انسان خوشحاله شي او کله خفه ـ کله غصه او کله په اصلي حالاتو کښې وي ـ یو وخت به خاندي خوشحالېږي خو په بل وخت به د چا په مرګ هم نه راضي کېږي ـ یو کار به په خوشحالۍ اوکړي ـ خو بل وخت به پرې پښېمانه وي د انساني رویو دغه ټول بدن د خارج او باطن په تصادم په نتیجه کښې په وجود راځي ـ نو یواځې د ټولنې د هوش د حواس لرونکي افرادو ذهن وي بلکه د لېونو ماشومانو هم ذهنونه

اودروي ـ لېوني چې بهر ټولنه کښې څۀ محسوسه وي هم د هغه ردعمل کښې د باطن سره د لړ ټکراؤ نه د هغوي ذهن او کردار جړېږي او هم دغه د ماشومانو هم وي ـ

که انسان جوړېدو سره سم ددۀ اخلاق او کردار جوړېږي ـ د بېلو بېلو ذهنونو نتيجه کښې بېل بېل کردارونه په وجود کښې راځي او هم دغه کردارونه يو ټولنه جوړېږي ـ د علم نفسيات موضوع هم د منفرد لرونکي ذي روح کردارونه د کاروان نفسيات کښې دې باره کښې داسې ليکل شوي دي ـ

'' تمام ذی روح جو دماغ رکھتے ہیں نفسیات کا موضوع ہے۔[4] ''

د نفسياتو په علم کښې د افرادو د رويو او کردارونو مطالعه کېږي ـ په اصل نفسيات د انسان د پېدا کېدو سره سم په وجود کښې راغلي د هغه وخت نه انسان د خپل ذهن نه ګټه پراخه کړي او اوس هم ترې پوره ګټه اخلي ـ

د نفسياتو تعريف په انسائيکلوپېډيا برټانيکا څه داسې دے ـ

"Psychology Scientific discipline, that studies manta skates and process and behavior in human and other animals[5]"

ترجمه :- نفسيات د انسانانو او نورو ځناورو د ذهني عمل او رويو سائنسي مطالعه ده ـ

پښتو اکېډيمي لغت کښې خيال بخاري صېب وائي :

'' د انګرېزي د Psychology نه مراد "Study of mind" يعني د ''ذهن مطالعه'' Psycho نفس ته وئيلے شي او logy د مطالعې په معنٰی کښې راځي ـ په مشرقي ژبو اردو ، پښتو ، عربي وغېره کښې "Psychology" ته نفسيات وئيلې شي ـ نفسيات هم د دوو لفظونو مرکب دے ـ يو نفس او بل پات د نفس مراد درج دے او ذات وے او د پات معنٰی ده علم يا مطالعه ـ د نفسياتو معنٰی شوه د ذات يا روح علم او مطالعه[6]''

**معاشرتي نفسيات :-**

طارق محمود مغل په خپل کتاب کښې دا تعريف څۀ په دې ډول کوي ـ

'' نفسیات خود کے کردار اور بنیادی افعال یعنی حافظہ ادراک ، تخیل ، تفکر اور محرکات کے سائنسی مطالعے کا نام ہے۔[7] ''

د انسان کردار دده د ذهني محرکاتو له وجې جوړېږي ـ او ځنې محرکات د خارجي

واقعاتو او مشاهداتو په وجه پیدا کیږي. په ذهني محرکاتو کښې تر ټولو وړمبې څیز حافظه ده. په حافظه کښې واقعات محفوظ شي. او بیا ورسره تخلیل او فکر ملګر شي او انسان د واقعاتو حقائق معلوم کړي. داسې انساني ذهني میلان او رویو یو ځانګړے حېثیت اختیار کړي او کردار تر وده وموږي. په انساني ټولنه د هر وګړي کردار او رویه یو تر بله جدا وي ځکه چې د هر انسان ذهني محرکات د بل انسان نه بدل وي. په دې وجه به ټولنه کښې د مختلفو رویو یو بل سره تصادم راځي خو کله کله په یو خبره ټول وګړي صلاح هم شي. د هر انسان په ټولنه کښې خپلې رویې او ذات په رنګ خلق ګوري اوداسې یو ټولنه په ټولګو کښې تقسیم شي او د هر وګړي او بیا د هر وګړي د ټولنې د مینې، کرکې، خوښې ناخوښې معیار او درجه بېله شي.

په کاروان نفسیات د نفسیاتو جائزه او تعریف څۀ داسې د ے.

" نفسیات Psychology یونانی الفاظو Psyche اور Logy کا مجموعہ ہے۔ Psycho کا مطلب ہے، روح ذات اور Logos کا مطلب ہے۔ علم حاصل کرنا جاننا، اسطرح لفظ سائیکالوجی کا مطلب ہوا ارواح کا علم، ذہین کا علم یا ذات کا علم اس وجہ سے نفسیات کی مختلف تعریفیں نہیں کی جاتی رہی تھیں۔

1. نفسیات بطور علم روح Psychology as Science of Soul
2. نفسیات بطور علم ذہین Psychology as Sconce of mind
3. نفسیات بطور علم شعور Psychology as Science of Consciousness
4. نفسیات بطور علم کردار Psychology as Science of behavior "[8]

د یونان ستر او ځلانده نوم سقراط وائي چې مادي څیزونه رد کړي دي او په روحاني مطالعې ئې زور ورکړے د ے. دغه رنګ د نیکۍ او بدۍ باندې هم د سقراط خپله نظریه ده. د سقراط په نزد روح د وجود نه برتر د ے. رفیق جعفر د سقراط دې خیالاتو باره کښې وائي:

" سقراط سائنسی اور مادی دنیا کے مطالعے کو رد کیا اور وحانی مطالعے پر زور دیا ہے وہ پہلا یونانی فلسفی تھا جس نے روح کو جسم سے برتر قرار دیا ہے۔ "[9]

کاروان نفسیات کښې لیکوال لیکلي دي چې:

" نفسیات کی جامع اور بہترین تعریف یوں کی جاسکتی ہے کہ نفسیات عضوبہ کے کردار اور ذہنی اعمال کی

سائنسی ہے اس میں فرد کے کردار اور ذہنی اعمال کا مطالعہ اس کے ماحول کے تناظر میں کیا جاتا ہے۔[10]
''

د نفسياتو په زمره کښې هغه ټول توکي راځي د کوم تعلق چې د ذهن او مغزو سره وي کرداونه د ذهني عمل نه پس په وجود کښې راځي ـ په نفسياتو دا بحث کېږي ـ د انسان کردار څنګه جوړېږي ـ د يوې ټولنې د يو خاندان او د يوي کور د وګړو رويې ولې د يو بل نه جدا وي ـ د ټولنې مختلف کارونه څنګه ترسره کېږي او انسان په مختلف حالاتو کښې څنګه احساساتو سره مخ کېږي په انساني رويو کښې بدلون څنګه راځي ؟ داسې ګڼ شمېر پښتني موازنه د نفسياتو په دائره اختيار کښې راځي ـ

ثابته ده چې په نړۍ لکها قومونه ژوند کوي او هر قوم د ژوند تېرولو خپل طور طريقې دي ـ يو خپل دستور او رسمونه ، رواجونه ئې وي او د هرې ژبې د ليکوالو په ليکونو کښې د خپل قوم دود دستور په شعوري او غېر شعوري توګه ښکاري ځکه چې يو اديب خپلې ټولنې ته ډېر يو ژور نظر ګوري او چې څۀ وي نو د خپل احساساتو په رنګ کښې ترې يوه نادره او نايابه فن پاره جوړه کړي او هم دغه خاصيت او اسلوب مونږه ته د زېتون بانو په افسانو کښې ښکاري ـ

د زېتون بانو په پښتون قام کښې ژوند کوي او د هغې په افسانو کښې د پښتون قوم اود ټولنې ټول نفسيات ښکاري ـ هغوي خپله وا ؟ئي چې زما هره افسانه د څۀ نه څۀ مشاهدې يا تجربې په بنياد وي ـ

'' مات بنګړي '' مې د زېتون بانو د افسانو دوېمه مجموعه ده ـ ۱۹۵۹ء کښې چاپ ده ـ دې مجموعه کښې يوولس(۱۱) افسانې دي او دلته به په دې افسانو د نفسياتي اړخو مطالعه وړاندې کوي ـ د مات بنګړي اولسې افسانه بخت ده ـ

بخت افسانه کښې د يوې داسې بختورې ناوې قصه ده چې د هغې د راتلو سره د سخر کور کښې د خوشحالو او د کاميابو يو نه ختمېدونکے دور شروع شي او د ناوې خوابښې خو داس پېوخ يقين وي چې کوم کار ناوې په لاس اوشي نو هغه هم بختور شي ـ تر دې چې د ناوې نه ورستو چې د کومو ليورونو ودونه وي نو خوابښې د وېنا مطابق هغوي د هر څۀ کولو سره سره ليورونو ته سهره هم هغه اوترې ـ د سهرې په تړلو د ناوې ايندروريانې خپل خفګان ښکاره کړي خو ولې مور ورته وائي چې تاسو نه غواړي چې ورونه مو خوشحاله وي ـ

د هغې ساده او ښې خوابښې دا هر څه هغې پورې تړل هغې ته وئيل د خپل مخ متازه ئې زوره وره ده ـ خپل قوم ئې بختور دے[11] ـ

د زېتون بانو په ډېرو افسانو کښې مونږه د بختورې او د سيره نفساتي اړخونه په نظر راځي ـ د ناوې نوم کردار په خپل بختور توب ډېره غاوره وه ـ څۀ موده پس د هغې خاوند مړ شي ـ خو ولې ناوې اوس هم هغه زوړ سوچ او نظريه وي چې څنګه مخکښې ورته ښځاني بختور ښکاريدو ـ او کله چې د هغې د کشر ليور وادۀ وي نو د نور کله په شان ځان جوړ کړي او هر کار ته مخکښې وي ـ د جنج په وخت چې دا تياره وي او هغه مهربانه خوابښې ورته رانزدې شي ورته وائي ـ

''کور ته پام کوه ...... مونږه به اوس را اوګرځو[12]''

خو دا هغه وخت وي چې هغه ګونګه لکه د بُت اودرېږي ـ د ناوې نه دا هير وو چې د هغې خاوند نشته هغه بخته د خاوند سره د تورو خاورو لاندې شوے دې ـ هغه اوس بختوره نه ده يوه سپيره کونډه ده او چې کله ئې خوابښې د کوره اووته نو بيا ئې ورته اووئيل چې

''او ...... اينې ګوره چې ډولۍ د خيره په کور رانو ځي نو ته د ناوې مخې ته رانشي[13] ـ''

ناوې چې د ډولۍ د راتلو چغې او شور واورېدو نو دا وخت هغې ته داسې ښکاريده چې لکه د هغې د خاوند کټ ئې راوړو ـ او د هغې بخت جنازه ده ـ

بخت کښې د پښتني کلتور دا نفسيات په وړاندې کړي دي چې کله د ښځې خاوند وي او نور هر څه هم وي نو د بختور په نوم يادېږي ـ خو چې کله د هغې خاوند چې د هغې په کښې هېڅ قصور نه وي هغه مړ شي ـ نو که د دنيا ټول نعمتونه ورسره وي هم نه وي ـ خو بيا هغه سپېره وي ـ او د هرې خوشحالۍ او د ارادې د څيز نه ئې لرې ساتي ـ چې هسې نه د هغه سپېرۀ سېورې د نورو په خوشحالو اوشي ـ د سړو برترې دلته کښې په ګوته شوې ده چې د ښځې خپل هېڅ مقام نشته هغه که لور ده که خور ده که ښځه ده ـ د دوې ټول حېثيت مقام او عزت خوښبختې او بدقسمتې ټوله د سړو سره تړلې ده ـ

**نتکې :-**

په دې افسانه کښې ګڼ شمېر زمونږ کلتوري نفسيات دي ـ کوم چې د ښځينه احساساتو ترجماني کوي ـ پښتني کلتور کښې د ماشومانو د زېږون سره هغوي دا په نوم کړے شي او مور پلار خپل بچي په داسې زنځيرونو اوتړي چې په هېڅ حالتکښې ترې ځان نه

شي خلاصېدے ـ او دغه زنځيرونه صرف په مرګ باندې شلېدے شي ـ

د افسانې مرکزي کردار مهرو چې په ورکوټوالي کښې ترۀ د زوے په نوم شوې وي ـ خو چې د وادۀ عمر ته اورسي نو مور ئې پلار ته څۀ په دې الفاظو کښې وائي ـ

''پټ پناه په کښې هېڅ نشته دے جينۍ په اوربې کښې د هغوي شوې ده[14]''

د پښتني کلتور دا نفسيات دي چې د لور خور د وادۀ کويژدن خبره به کله هم د جينۍ کور والانه کوي ـ دا د شرم خبره ګڼي ـ که د لور رشته ئې خپل وراراۀ له ورکړې نو بيا هم په خپله خولۀ د خپل لور د وادۀ وېنا کول ورته د پښتو نه وتل ښکاري ـ چې د مهرو مور ورته د مهرو د وادۀ اووائي نو پلار ئې ورته وائي ـ

''خبره خو ډېره بده نه کوې خو که هر څومره خپل ځان ځيګر دے خپل ورور مې دے په يوه سينه کښې مې ورسره سر اېښے دے خو د پښتو نه وتې خبره ده ـ څنګه ورته اووايم چې ته زما لور زر ادۀ کړه ـ شرم دے[15] ـ''

زېتون بانو په دې افسانه کښې چې مرکزي کردار ئې مارو ده چې کويژدن ئې په ماشومتوب کښې د ترۀ زوے سره شوے وي ـ دا پښتني کلتور د هغو جينکو قيصه ده چې د کېدو سره ئې د چا په نوم کړي او چې کله د واده وخت راشي نو د بد قسمتۍ نه چنغول مړ شي خو دلته کښې د پښتو ټولنې د هغه روشن خياله کورنۍ تصور هم وړاندې کوي چې د مارو چاچي هغوي ته اجازت ورکړي چې کـه بـل ځـاے واده کړي خو مـارو چې د خپل هوش راتلو سره خپل نوم سره د تره د زوے نـوم اوري نو هغه دا کله برداشت کولے شي چې د بل په نوم شي ـ ځکه چې هغې مينه کړې وي اوي خپل ټول عمر د خپل مړ شوي ترۀ زوے په نوم وي ـ

زېتون بانو د پښتنې جينۍ دا احساس او جذبه په ډېر ساده او زړۀ راښکونکي انداز کښې بيانوي ـ او پښتنې جينۍ د وفا لافاني مينې هغه احساس وړاندې کړے دے چې د خپل چنغول په نوم ټول ژوند تېر کړي ـ

ليکوالې د پښتون کلتور د جينکو ا زنانهٔ د حيا او شرم هغه رويه هم په ډېر لطيف انداز کښې بيانوي چې پښتنه جينۍ چرې هم د خپل مشرانو مور پلار وړاندې شرم و حيا اوړ لحاظ په وجه د خپل جائزه خواهش اظهار هم نه کوي لکه څنګه چې مارو د بل ځاے کښې د وادۀ کولو نه انکار او ټول عمر د خپل ترۀ زوے په نوم تېروي او فېصله خپل پلار ته ښکاره کړه ـ دلته کښې ليکوالې تنکۍ لوپټه د علامت په توګه استعمال کړې ده ـ

''ـــــ مور ـــــ ے ـــــ زما په يو زا دا ـــــ دا به په ـــــ د مرګ په تخته ــ

"...د هغې تالو پورې اونخته.... هغې نور هېڅ اونه وئيل شو خو لوپټه ئې د سره کوزه کړه. هغه لوپټه دکوخمې د بدليدو ضرورت چې په پيښ شو نو په کوټه کښې دننه په پورې در په بېلېده نن د پلار په مخکښې کوزه شوه چې پلار ئې هم د هغې فېصله اووينې[16]."

نشاني :-

د نشاني مرکزي کردار حليم د پښتني کلتور تولنې د ډېرو سرو د نفسياتو نمائندګي کوي. حليم چې د حجرې جماعت د مجلس ښائست وي ددۀ بغېر حجره ګپونه نامکمله وي هغه چې به خبرې کولې نور ياران دوستان به ئې په خندا شنه شو خو ولې خپله به ئې نه خندل خو د نورو له خبرو په ئې ځان د خندا نه وژلو. خو د هغه دا نفسيات وو چې بهر چې هر څۀ وي خو په کور دننه په ښځه به رعب کښې ساتي دغه وجه وه چې هغه به کور ته رانئوتو سره قهر و غصه شروع کړه. هر څو که د حليم خپله ښځه کشورو ډېره خوښه وه خو بيا ئې د خپل نفسياتي تنده ماتولو دپاره هغه عاجزه داصې خپل رعب کښې راوستې وه چې د هغه کور ته رانئوتو سره به د هغې نه يو دوه خطا شول.

زېتون بانو دلته کښې د حليم په شکل کښې د تولنې دا نفسياتي سوچ کوي چې سړي ښځه د ځان نه کمترې ګڼي که چرې خپله ښځه ئې خوښه هم وي خو بيا هم په کور کښې ئې په خپل مخ يو مصنوعي نقاب اچولې وي. او ددې مصنوعي نقاب برقراره ساتلو په کوشش هغه د خپل فطري خوشحالۍ نه هم ځان محرومه کړے وي. خو په اخر کښې کشورو ته هم پته اولګي چې حليم داسې نه دے خو ولې د خپل رعب داب يوه نشه د هغه په مغزو سوره ده.

" ددې وېنا سره سم حليم بيا په خندا ګوتې پورې کړې. خو دا وار خندا غبرګه وه. کشورو هم ورسره خندل او .....لږ ساعت چې تېرېدو نو حليم خندا کمېده او سنجيدګي زياتېده. او هغه "رعب" کرښې ئې بيا په تندي کښې ژوندې شوې وې او ژورېدې ژورېدې عن چې کشورو خندا اواز پکښې ور ډوب شو. او هغې ته وریاد شو چې د هغې خاوند هم د چغو سورو "نشائي" دے[17]."

**لاس :-**

د زېتون بانو دا افسانه ببخي نفسياتي ده. په دې افسانه کښې بانو يو داسې

نفسياتي مسئله وړاندې کړې ده چې د انسان د شعور او لاشعور فلسفه پکښې واضح ده ـ د انسان په ژوند باندې چې کوم لوظونه او خواهشات دي هغه د مرګ نه پس هم هغه بې سکونه ساتي تر دې چې څو پورې پوره کړې ئې نۀ وي ـ

ډاکټر يونس د کافرستان د يو مريض نه ښے لاس د بيمارۍ په وجه کټ کړے وي خو هغه ورسره لوظ کړے وي چې کله هم د هغه لاس پکار وي واپس کوي به ئې ځکه چې د غريبۍ په وجه د اپريشن فيش نه شو ورکولے ـ او ډاکټر ترې په بدل کښې لاس اوغوښتو او ځان سره ئې محفوظ کړو ـ

" هغه ماله لاس راکولو باندې رضا شو خو په دې شرط چې کله هم هغه خپل لاس اوغواړي نو واپس به ئې ورکوم ـ ځکه چې د هغه د مذهب روایاتو تر مخه دا خبره ضروري وه چې د ښخولو په وخت د مړي ټول اعضاء پوره وي[18] ـ "

خو ولې ډاکټر هغه لاس اوسو او اوس هغه قبائلي سړے خپل لاس پسې هره شپه راځي د څه په وجه چې ډاکټر ډېر پرېشانه وي خو اخره کښې د لاس په ملاوېدو هغه خپل لافاني دنيا نه واپس شي ـ هغه قبائيلي سړي د کاکاجي له رغلواو په دواړو لاسو ئې درې وارې سلام اوکړو او موسکے موسکے د کمرې نه اووتو ـ مطلب دا شو چې هغه سړے به بيا چرې هم نه راځي ځکه چې د لاس بدل کښې لاس بيا موندو[19] ـ "

## ببوزے :-

ببوزے افسانه مرکزي کردار شيرک دے چې ددې په ذريعه هغه د پښتني کلتور هغه ناوې او بدرنګه مخ رامخکښې کوي چې په کتو ئې لوستونکي هم حېرانه پاتې شي ـ

د بانو په افسانو کښې قصه د ښځې نه تاوېږي ـ مرکزي سوچ او کدار هم يوه ښځه وي کومه چې ليکواله په مختلفو حالاتو کښې وړاندې کړې دي ـ د ښځو خوشحالۍ ، محرومۍ د ژوند تېرولو منډې ، ځکه چې ښځه د کومه چې صرف وفا کول پېژني د محبت په نوم دهوکه شي کومه چې د خاوند اذاعت کول د ايمان حصه ګڼي ـ

ببوزے کښې هم شيرک چې د خان ضلعدار وي ـ د خان د زوے وادۀ وي نو د هغه په حجره کښې د ډمو تماشه وي ـ د مېلمنو او د ډمو د خوراک ذمه د شيرک ښځې قيشو په ذمه وي ـ ټولې ښځې د ډمو تماشه کوي او قيشو د هغوي د خوراک غم کوي ـ څۀ وخت چې تماشه

ګرمه شي نو په شيرک هم جذبات غلبه شي او د ډمو توجو حاصلولو دپاره د خپل نيازبين زوے له جوړ شوے ببوزے اوباسي او قيشو د بې بسۍ نه هيڅ اونه وائي ـ شيرک باندې جذبات داسې زور اوکړي چې هغه ډمو ته ببوزي وهل شروع کړي او نور هم کچه حرکتونه شروع کړي ـ دا هر څۀ قيشو هم ګوري او دکلي ښځو طنزونه اوري ـ

''قيشو ببو ... دا شيرک ماما ورته ببوزے ولې وهي ـ خولاسونو کښې دې ورکړي کنه ـ پخپله سره ئې سره ځانونو ته وهي دے خو ډېر بد ښکاري[20] ـ''

د شيرک په سترګو د جذباتو پټۍ وي چې بيا کور ته راشي نو قيشو وهل شروع کړي ـ د خدمت او اطاعت دا صله ؟ هغه ازلي صبر ، دا هغه حالات دي چې زېتون بانو ئې قلم اوچتولو ته مجبوره کړې ده ـ

''کړس ... کړس ... کړس ... د هر کړس سره لتې او کنځل ، قيشو د خپل بدن غوښې شوکېدل شان محسوس کړې ـ په سوي او دردونو کښې هغې د شيرک لاس ته اوکتل ـ په نغرو پورې د اور بلولو ببوزے ئې لاس کښې وۀ[21] ـ''

دې افسانه کښې د سړو نفسيات داسې بيان کړي دي چې د جذباتو په چپو کښې داسې لاهو شي چې سړے بيا د ښځ او بد تميز هم هېر کړي او خپله مرتبه او عزت هم په داؤ اولګوي ـ سترګې پرې پټې وي نه بيا هغه خپل اولاد ويني نه ښځه که ياد وي ورته نو خپل ځان او خپله خوشحالي ددۀ پښتني کلتور د ډېرو سړو نفسيات دي چې د کاغذي ګلونو په ليدو هغه خپل اصلي ګلاب پانې پانې کړي ـ

## انتقام :-

په دې افسانه کښې مونږه د ډاکټر يو بدل مخ وينو چې د ''ژوندي غمونو'' د ډاکټر هغې نه بالکل مختلف او جدا انداز کښې دلته کښې د ډاکټر رشيد خپل زړۀ زخمي شو جذبې ئې ټوټې ټوټې شوے خو د خپل لور د کور بچ کولو دپاره يو مسيحا د داسې لارې مسافر شو کوم چې د ډاکټرۍ د پيشې د خدمت خلاف وۀ ـ

مهرو چې د ډاکټر رشيد مريضه وي ډېره ښائسته وي د هغه هم خوښه وي خو کله چې هغه ته دا پته اولګي چې د مهرو د هغه د زوم رفيق تعلق او خپلو کښې سره مينه ده نو هغه باندې اور بل شي ـ او هغه د مهرو او رفيق نه داسې انتقام واخلي چې رفيق او د خپلې لور کور بچ کړو ـ

ډاکټر رشید د مهرو د علاج په ځای هغه ته داسې دوایانې ورکول شروع کړل چې د هغې ښائسته مخ ئې داسې اوسوزولو لکه سکارۀ او بیا مهرو برقعه راټوله کړه پاسېده او په خپل سوزېدلي او د ډاکټر رشید د انتقام په اور ستي شوے مخ باندې نقاب واچولو۔

''رفیق ته ئې نقاب کښې په مینه په وروستي نظر اوکتل او کور ته روانه شوه[22]۔''

دا افسانه د هغه مشهور قول مثال دے چې په جنګ او مینه کښې هر څۀ جائز دي۔ دلته کښې د ټولنې د سړو نفسیات داسې بیان شوي دي چې سړي په ښائست مئین وي چې ښائست ختم شي نو مینه په خپله ختمه شي۔

**دغه دغه :۔**

لیکواله په دې افسانه د خپلې ټولنې هغه مکروهه کردار د آزر وړاندې کوي او خپله پښتنې ټولنې د جینکو معصومیت ، سادګي څۀ په داسې انداز کښې لوستونکو ته وړاندې کوي۔ د ټولنې د سړو د طبقې نه کرکه اوشي۔

اذر چې شاعر وي او حسن پرست هم وي د افسانې مرکزي کردار چې اوس یوه ډاکټره دهد خو هغه هم شاعره ده۔ اذر چې د هغې معصومو احساساتو او جذباتو سره لوبې کولې او د خپل محنت په حال کښې داسې راګېرې کړې چې بیا هغه د اذر په هره خبره په پټو سترګو یقین کوي۔ او چې کله د اذر زړۀ سوړس شي نو ددې هر عمل ته د شک په نظر کتل شروع کړي۔ او دا ئې سوچ وي چې څنګه ما سره ملاوېږي خط و کتابت کوي داسې به ئې نورو سړو سره هم وي او اخر دا هم دغه پېغورونو او تورونو سره ورته د تعلق ختمولو اووائي۔

دې افسانه کښې د ټولنې هغه نفسیاتي اړخ دے چې د اذر په شان سړے چې معصومې جینکۍ د خپلې مینې په جال کښې ګېر کړي او چې د هغې ه ورته ښۀ ملاؤ شي نو دوي د بدعملۍ او بې وفایۍ الزام اولګوي او تعلق ختم کړي۔

خو بل اړخ ته شاعره ده چې د هغې په غلطو ئې هم طنز کړے دے او لوستونکو ته وړاندې کړې دي چې بغېر د لیدو او کتو نه هغه په اذر ولې اعتبار کوي۔ خو د امید خبره په کښې دا ده چې دې جینۍ د اذر دهوکه او بې عزتي په زړۀ وانخسته او خپل ځان ئې اوچت کړو او نن هغه یوه قابله ډاکټر په طور زمونږ وړاندې ده۔

**صالې :۔**

په دې افسانه کښې صالې د یوې غریبې او بې وسه ښځې کردار دے۔ خاوند ئې

خوشې تشې انسان دے چې ددې ګټې ته ناست دے ۔ درې درې بچي او خاوند پالل ددې ذمه داري وي ۔ فريد چې د صالې خاوند دے ۔ ددې ډوډۍ ته ناست وي ۔ او پخپله ورته ځان په مزدورۍ بد ښکاري ۔ په صالې مزدوري هم کوي او ورسره وهل ټکول هم د صالې په نصيب وي ۔ او د صالې د دومره صبر او قربانو باوجود چې هغه پرې ښځه اوکړي نو بيا د صالې بدبختي نوره هم زياته شي ۔

''درې خبرې دي اووۀ لارې دي مخکښې دي ۔ په اووۀ لارو ځې ؟ که ددې وينزتوب دې قبول دے او که نه مړه دې کړم خو طلاق خو ځکه نه درکوم چې پښتون يم ۔ خو صالې درې واړه لارو کښې مرګ قبول کړو[23] ۔''

دا افسانه يو داسې تور اړخ وړاندې کوي چې صالې خاوند چې پردۍ مزدوري پرې کوي او تيارې ته ناست وي ۔ نو هغه وخت نه پښتو وي او نه پښتو ۔ خو چې د طلاق وخت راشي نو پښتون شي ۔ دلته کښې د مظلومو او بې وسو ښځو نفسيات وي چې د خپل بچو او کور بچ کولو دپاره هر قسمه سختنه تېروي ۔ صالې کردار د بانو بلې افسانې د لېونۍ د کردار په دې ښۀ دے چې لېونتوب په ځآے هغه سړے د خپلو بچو د نوے منزل په تکل اوور ځکه چې هغې محنت کولو عادته وه او په خپل ځان ئې اعتبار وۀ ۔ صالې د ټولنې هغه طبقه چې هغوي ته دا پته هم نه وي چې په هغوي ظلم کېږي ۔ او د نقطې بانو په ډېر ښکلي ډول وړاندې کړې ده ۔

**وهم :-**

زېتون بانو د پښتنې ټولنې د ښځو نمائنده افسانه نګاره ده هغه د ټولنې هر اړخ وړاندې کوي په کوم کښې چې ښځه په مسائل ، ظلم و زياتي وي خو ليکواله د ښځو د نفسياتو نه هم ښۀ ژوره مشاهده لري ۔ وهم نومې افسانه يو نفسياتي افسانه ده ۔ د مرکز کردار خورشيده يو نفسياتي مريضه وي او افسانې د شروع نه تر اخره پورې د نفسياتو په رنګ کښې رنګ شوې ده ۔

يوسف او خورشيده يو ځاې سبق وئيلو ۔ د يوسف خورشيده خوښه وي خو ولې خورشيده يوسف سره مينه نه وي ۔ يوسف د هغې مينه په هر حال کښې تر لاسه کول غواړي نو چې په هېڅ باندې هم اونۀ شي نو يوسف هغې په خط کښې د خپل دنيا د تلو او په هغه جهان کښې د ملاوېدو اوليکي ۔

خورشیده معلوم او ښځینه فطرت نه مجبوره وي. هغه په دې باندې پوره یقین اوکړي چې ګني یوسف د هغې په مینه کښې ځان وژلے دے او اوس هغه جهان کښې دې ته په انتظار دے.

پښتنې جینۍ د خپل فطري عادت نه مجبوره وۀ چې دا خبره زړه ته واچوي نه چا ته څۀ حال وائي او د زړۀ په رنځ اخته په د کټ شي ځکه چې هغې ته ځان مجرمه ښکاري په دې وجه هغه د نفسیاتي مسئلو ښکار شي. نالیدونکي او نه اوریدونکي اوازونه به ئې اوریدل ځکه ورته زبېرګي او کله د هغه نوم څوک اخلي او اخر دا چې دا د یوسف سره د ملاویدو په طمع په ابدي خوب اوده شي.

"ما هیڅ لیدل نا......خو یو څو ګامه یو خوړ کښې څۀ ونه ولاړه وه. ما تمناچه د ونې وبخ ته ونیوه چې مې یو وار بیا ووې "څوک ئې ګورے لاړې" او خپل دې ګړنګېدونکي اواز سره مې یوه کریکه واوریدله. سخته ویرېدم[24]."

دلته کښې لیکوالو د سړو د خود غرضۍ او جفا، بې حسي او اذیت ورکو عادت ته ګوته نیسي چې د کومو په وجه چې د خورشیدې غوندې معصومې جینکۍ دا قسم بیمارو ښکار شي.

## مات بنګړي :-

زېتون بانو یوازې د ښځو نه بلکې د سړو نفسیاتي مسائلو باندې هم قلم پورته کړے دے. د "مات بنګړي" مرکزي کردار ظریف دے چې د خپلو جذباتو او احساساتو د اظهار دپاره څۀ لار نه مومي او چې کله د ګودر په غاړه د مات بنګړو ټوټې اووینې نو راغونډې ئې کړې او ځان له یو خیالي جانان جوړ کړي یچې د بنګړي د هغې د لاسو وي. دغه د بنګړو ټوټې د هغه د جذباتو تنده ماتوي. او دې مات بنګړو سره هغه قسماقسم سوچونه او خیالات خپل مغزو کښې جوړ کړي وي چې خپل معشوقه به داسې د مړوند نه نیسم داسې به ورته بنګړي اچوم او چې کله ترې لاس نیسم او بنګړي مات شي نو نور به ورله راوړم.

د هغه دا پوخ یقین وي چې د هغه معشوقې دا مات بنګړي د هغه دپاره ګودر کښې پریښي دي. دا مات بنګړي د هغه د جذباتو د تسکین یوه ذریعه وي. هغه ئې ډېر په مینه ځان سره ساتي. او چې کله هغه ته پته اولګي چې دا مات پنګړي د بل چا نه د هغه د خور دي نو د قهره ئې په زمکه اوغورزوي.

"اوس د ظریفي ماتو ټوټو سره ټوله مینه په هم هغه هومره کرکه کښې په یو ساعت کښې بدله شوې وه. د هرې ټوټې ګزارولو سره هغه د تابانې مړوند داسې تاوه ؤ لکه څنګه چې تابانې د ورور د پښتو چنغرق تاؤ کړے وؤ او ..... د غېرت مرۍ ئې ورله لکه د بنګړو دوه عامو ټوټو ټوټې ټوټې کړې وه [25]."

بانو مات بنګړي کښې د ظریف د جذباتي تندې انځور ډېر په ښهٔ انداز وړاندې کوي. دلته کښې د ټولنې هغه جذبات راوړاندې کوي چې ظیفي چې په خپلو خیالاتو کښې د نالیدلې معشوقې دپاره څهٔ محسوسه وي او څنګه دوي د خپل ناتمام جذباتو تسکین دپاره د بنګړو سرا اخلي. د ظریفي ته چې پته اولګي چې دا بنګړي د هغه د خور دي. نو د رشتو نه نفرت نه بلکې د ظریفي پشان نااسوده لېونو سره همدردي پېدا شي. او که هم بانو کولے شي چې د ټولنې د اړخ په نه داسې فنکارانه انداز کښې وړاندې کوي.

**ډالۍ :-**

په دې افسانه کښې د دوه ملګرو قصه ده چې بدرو یوه یتیمه جینۍ وي. محمود سره ئې ملګرتیا وه. خو خدا ے خبر چې ولې د بدرو ملګرتیا دې ته مشکوکه شان ښکاریده. ددې وادهٔ جوړ شي نو بدرو چې راشي نو دې سره په ګنج کښې ناسته وي او دې پسې ډېر زیاته ژاړي او د ډولۍ د تلو پورې په بدرو خلق وسې اوکړي خو هغه د وړېژو دانه هم خولې ته وانه چوي. بدرو ښائسته وي خو نصیب ئې بند وي. دا ناروغه شي او چې جوړه شي نو بدرو تپوس له ورشي او او محمود دې له داسې ډالي راوړي چې په دې ټول حقیقت ښکاره شي.

"دغه ډالۍ نور هېڅ نه خو زما د خاوند د هلکوانې د زمانې او ...... په نوم د مینې خطونه وو [26]."

نثار چې د محمودې خاوند دے. ددې د ملګرې بدرو سره ئې هم خط و کتابت او مینې وعدې کړې وي. نثار او محموده د ورکوټوالي نه د یو بل په نوم وي. خو ددې باوجود سړو هغه ازلي فطرت وي چې د جینکو جذباتو سره د مینې په نوم دهوکه کوي او ورسره ورسره بیا ورپسې خنداګانې او ټوقې هم کوي. خو ولې محمودې ته چې کله پته اولګي چې نثار او د بدرو څهٔ تعلق وؤ او بیا هغه د خپل ملګري هغه بې عزتي برداشت نه کړے شي او بدرو هم خپل خاوند ته په نکاح کړي.

زېتون بانو دې افسانه کښې د ښځو د نفسیاتو یو نوے اړخ وړاندې کړے دے چې

محمودې د سرو د لاسه د ښځو بې عزتي برداشت نه کړي.

" په ما مئينه بدرالنساء ... که ته زما وده کښې شريکه شې نو زه .... زه به دې په وربږو داسې مره کړم چې د ټول عمر ارمان به دې اوباسم..... ستا نثار ....." 27، 28

په دې افسانه کښې محموده د خپل خاوند نه انتقام په بدل انداز کښې واخلي.

زيتون بانو وائي چې خپلو افسانو کښې ما د ډېر سادګۍ نه کار اخستے دے. دلته کښې مارو او د هغې خور هم شته چې د خاندان په نوم قربان شي. داسې ناويانو هم شته چې د سر سبورے ئې په ځوانۍ کښې لاړ شي. او هغوي کونډتون کوي. د هغې په شان ځوانان هم شته او د مهتابې په شان جينکۍ هم شته چې د ډاکټرۍ نه پس هم د خلقو د سازشونو باندې نه پوهېږي. او د سرو د چلونو نه بې خبره وي او داسې ښځه هم شته چې د خاوند يوه پښه په جنګ کښې کټ شي. هغه بيا په دې فکر کښې وي چې اوس به يو بوټ پالش کوم. زما د افسانو کردارونه د حالاتو په بهادرۍ سره مقابله کوي او په يوه مرحله هم شکست نه مني.

# حوالې

[1] احمد پراچہ، زیتون بانو فن، شخصیت، مکتبہ ارژنگ آرٹ پریس پشاور، 1984ء، ص62

[2] ایضاً، ص73

[3] رخشندہ شہناز، گل نواز بلوچ، غلام محی الدین، کاروان نفسیات، مکتبہ کاروان لاہور، 2008ء، ص8،9

[4] ایضاً، ص3

[5] انسائیکلوپېډیا بریټنانیکا.

[6] خیال بخاري ، پښتو اکېډیمي لغت ، ترتیب و سمون ډاکټر نصرالله جان وزیر ، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون ، ۲۰۱۸ء

[7] طارق محمود مغل، معاشرتی نفسیات، شیخ غلام علی اینڈ سینز، فیروزپورہ روڈ لاہور، 2007ء، پانچواں ایڈیشن، ص25

[8] رخشندہ شہناز، غلام محی الدین، گل نواز بلوچ، ص3

[9] رفیق جعفر، نفسیات کا ارتقاء، اظہار سنز اردو بازار لاہور، ص21

[10] رخشندہ شہناز، غلام محی الدین، گل نواز بلوچ، ص3

[11] زېتون بانو ، مات بنګړي ، بخت، یونیورسټي بک ایجنسي ، شاهین پرنټنګ پریس پېښور، ۱۹۵۹ء، ص ۱۲

[12] همدغه ، ص ۱۹

[13] همدغه ، ص ۱۹

[14] همدغه ، ص ۱۹

[15] همدغه ، ص ۲۵

[16] همدغه ، ص ۳۴ ، ۲۵

[17] همدغه ، ص ۳۳ ، ۳۴

[18] همدغه ، ص ۴۴

[19] همدغه ، ص ۵۲

[20] همدغه ، ص ۵۵

[21] همدغه ، ص ۶۸

[22] همدغه ، ص ۷۳

[23] همدغه ، ص ۸۸

[24] همدغه ، ص ۷۱۷

[25] همدغه ، ص ۱۴۹
[26] همدغه ، ص ۱۸۰
[27] همدغه ، ص ۱۹۷